# د باچا خان خط
# د خان عبدالاکبرخان په نوم

سابرمتي سنټرل جېل احمد آباد
10-7-35

خوږه عبدالاکبر خانه خوشحاله اوسې
السلام علېکم ورحمة الله وبرکاته

چې څۀ وخت د جېلخانې نه رابهر شوم نو زما طمع دا وه چې ضرور به ستاسو د لوري څۀ نا څۀ خبر ماته راشي. بيا چې څۀ وخت ولي واردا ته راغلو او د هغۀ نه مې ستاسو د ټولو د حال احوال پرسان وکړو نو د هغۀ نه راته معلومه شوه چې شپږم نمبر سره تا يوه لويه منډهې پرانستلې ده او په هغې کښې مصروفه ئې.

زما بهر هم طبيعت ښۀ نۀ ؤ لېکن چې لږ ډېر ښۀ شوم نو بيا ګرفتار شوم. دې قېد خو مې صحت ته ډېر نقصان ورسولو ولې چې يو خو د دې ځائے آب وهوا راباندې ساپه نۀ ده او بل يواځې يم. داسې څوک راسره نشته چې تبادله خيالات خو ورسره وکړم. دې کارونو سره خو دا وي. دعا راته کوئ چې الله تعالي مې په دې امتحان کښې کاميابه کړي. همت، صبر او استقلال راکړي.

د ډېرو ورځو نه مې دا خيال ؤ چې يو خط به درته ليکم. لېکن د ګرمۍ او طبيعت د ناسازوالي په وجه مې ليکلے نۀ شو. د خدائے فضل دے باران شوے دے، يخ يخ باد لګي. زۀ په قېدخانه کښې اکي يواځې ناست يم او تاته دا خط ليکم.

خوږه خانه، اختلاف رائې هميشه په خلقو کښې وي. اختلاف رائې څۀ بد څيز نۀ دے. رسول اکرم صلي الله عليه وسلم خو د امت اختلاف رائې ته رحمت وئيلي دي. لېکن په موجوده وخت کښې زمونږ د مسلمانانو او بيا خاص کر زمونږ د پښتنو اختلاف رائې زحمت دے. زمونږ د اختلاف رائې نه هميشه ذاتيات جوړېږي او د دې ذاتياتو په وجه کۀ چرې د پښتنو تاريخ وګورې نو هميشه تباه شوي او برباد شوي دي. زما خو په دې مسئله د يو مفصل مضمون ليکلو خيال ؤ لېکن بيا مې دا خيال پرېښوو ولې چې ما وې چې هغې نه څۀ غلط فهمي پېدا نۀ شي.

خوږه خانه! زما په زړۀ کښې خو د هر چا دپاره محبت دے. لېکن کوم محبت چې زما خپلو دوستانو او رشته دارو سره دے هغه خدائے ته په ښۀ شان سره معلوم دے او ستاسو د دې بعضو زړو دوستانو د جدايۍ په وجه چې ماته کومه صدمه رسېدلې ده، د هغې د ليکلو ضرورت نۀ ګڼم او کۀ چرې د دې کار د سمبالولو دپاره مې بل سړے ليدلے نو زۀ دې ته هم تيار وم چې د دنيا نه لاس په سر شم ولې چې زۀ د نفاق نه ډېر ويرېږم ځکه چې د دې له لاسه د پښتنو کور تباه شوے او برباد شوے دے.

غازيان او د غازيانو مور په څۀ حال کښې دي؟ زما د طرف نه ورته مينه او محبت، کۀ چرې رزړو ته لاړې نو ټولو ته مې ډېر ډېر سلام وايه. د سېدا خان دوي مور، هنرمند او صدمه خان دوي په څۀ حال احوال کښې دي؟ سلام مې ورته کوه. هنرمند ته مې دوه خطونه ليکلي وو د يو جواب خو ئې راکړو او د بل جواب رانغلو. د خاندان ټولو وړو لويو ته مې مينه او سلام. فقط

ستا ورور عبدالغفار